محمدامین بسمل

۱۷ دسمبر ۲۰۱۱



## دغمزده په مړینه سخت غمزده شوم

یوه شیبه مخکې سترګې او یخني نیولی کور ته راستون شوم دکمپیوټر له روښانېدو څخه وروسته مي دپخوا په خلاف یوناڅاپه زړه راته وویل، لمړی ایمایل پرانېزه همداسي مې وکړل، چي ګورم محترم ډاکتر صاحب اکرم خان ملګزي دموسیقي د یوځلاند ستوري د غورځېدو خبر لیکلی و.

غمزده دریادم هغه زموږ ګران او خوږبدلی (رحیم غمزده).

داچې داشیبې څومره ترخي او درنې راته پرېوتي یولایزال پوهیږي .

ماته هغه تللي وختونه راپه یاد شول، کله به چې مرحوم ماسټر فضل غني له غمزده سره ګډې سندرې بللې،هغه وخت هم را په یاد شو، چې دځرخي پله په زندان کې له بېګناه او بېچاره غمزده څخه دکارغل خادستانو دګوتو نوکان ایستلي وو.

هغه وختونه مې هم رایاد شول، چې غمزده له زندان څخه راخلاص اوډېر وروسته مو بیاڅوځلې په خصوصي محفلونو کې دزړه خواله سره وکړل .

دا هر څه په تفصیل سره اوس ځکه نشم لیکلای، چې حالت مې زیات وران دی یوازې دومره لیکم چې :

زموږ ستوري یو په بل پسې رالویږي

دبدمخو لوټې وختې اسمان ته

خدايه څه دې په پښتون پسې رااخيستي

نه يي مال او نه يي جان پرېږدې جانان ته

له بدمخو څخه مي مراد دا په موږ تپل شوي غلامان او له جانان څخه مي مراد ګران افغانستان دی .

دتپل شوو غلامانو لپاره نن هرڅه تيار دي په سر يې لا درد نه وي تر دوبی او جرمني يې بيا رارسولي وي .

داڅوم ځل دی چي هغه قسيم فهيم دروغتيايي کتنو لپاره المان ته راورل کيږي، چي دولس په وينورنګ خو بيا هم هر ځل د ولس په وينو کتل (معاينه)کيږي .

هغه پښتواو فارسي متلونه دي :

ناولي تيکه اور نه اخلي .

بادنجان ګنده آفت ندارد.

تېرکال په همدې سنډاباندې ديوې اونی لپاره دجرمني په يو روغتون کې ۱۵۱۰۰۰يوسل اويوپنځوس زره ايرو ولګېدې .

د دې لګښت فورمې افغان سفارت ته ورسېدې اوزموږ دمظلوم ولس له وينويي لګښت ورکړشو .

دقسيم فهيم روغتيايي کتني پخواهم څوځلي شوې دې سږکال يې بياراوړی و داچې ټولټال به څومره لګښت پرې راغلی وي زه نه پوهېږم خو ماته يې لګښت له يو ميليون ايورو څخه زيات ښکاري .

اوس به راشم يو ځل بيا زموږ بې وسه رحيم غمزده ته چي څومره خدمت يې افغان فرهنګ، شعر، موسيقي او پښتو ژبې ته وکړ خودکابل ګوډاګی او داړه مارې اداري يو ځل هم د درملني لپاره بهر ته ونه لېږه .

رحيم غمزده دستوني دسرطان له کبله وفات شو دستوني دسرطان درملنه په جرمني اويو شمېر نوروهېوادونو کې په ښه ډول سره کيږي .

همداشېبه چي داليکنه ليکم دبي بي سي له راديوڅخه مي دخردم رهين غږ واورېدچي ايله اوس يې دمړيني په ورځ غمزده ياد کړ او دهغه مړينه يې دافغان موسيقي لپاره په مکاره خوله لويه ضايع وګڼله .

زه فکر کوم اوس ډېر ناوخت دی دغمزده لپاره اوس دهيڅ چا فريادونه په درد نه خوري .

که خردم رهين دومره انسانيت او زړه سوی لري ښاغلی استادګلزمان او استاد ايوب دي دتداوي لپاره بهرته وليږي هغه هم ناروغان دي سبا چي وفات شي بيابه هله دا دايران لاسپوڅی لباسي افسوس پرې کوي؟

همدا راز له زرين ګل رنځورڅخه هم پوښتم، چي ته خو اوس د ملي ؟؟ (سيتمي) تلويزيون تر مشرتوبه پورې ورسېدې آيا کله هم دا خوږ ژبی په ولس مين غمزده تا در وباله يا يې پوښتني ته ورغلي؟

اوس يې په مړينه يو ځاځکی اوښکي هم مه تويوه که فهيم . . . شه بيا ښه ډېر پرې وژاړه .

لنډه دا، چي دردونه او داغونه ډېر دي نور به تاسو درانه لوستونکي نه غمجنوم په اخېر کې غمزده صاحب ته له خدای (ج) څخه فردوس جنت او کورنی ته يي جميل صبر غواړم .

خوږولوستونکو!

ستاسو د پام غلطي لپاره دخدای بخښلي رحيم غمزده له يوڅوخوږو سندرو څخه چي دا ۲۷ اووه ويشت کاله کيږي له ما سره امانت ساتل شوي دي يوه داسي سندره وړاندې کوم، چي تکرار يې هيڅ چا او آن چي پخپله غمزده صاحب هم نه دی اورېدلی .

دیادولو ده، چي دا سندره زما دیو نږدې دوست د زامنو د سونتي په پروګرام کي وېلي شوې دي دا یو داسي وخت و، چي غمزده صاحب وروسته له ډېره وخته کابل ته راغلی و.

یادونـــــــــــــــــــــــه :

که تاسو داسندره دحجم دزیاتوالي یاتخنیکي ستونځي له کبله په نورووېبپاڼوکي نه شئ اورېدلای، باوري یم چي دتل افغان په ویبپاڼه کي به واورېدله شي، دتل افغان ویبپاڼي له درانه چلوونکي قدرمن اوقدردان ډاکتر صاحب سمون څخه واردمخه مننددوی یم .

۲۰۱۱/۱۲/۱۶